

# دحضرت باز ژوند او فن


لیکوال
استاد شیرشاه همدرد


Ketabton.com



## دلیکوال لنډه پیژندنه

**زده کړه :** د پښتو ادبیاتو ماسټر

شیرشاه همدرد د الحاج ګل جان زوی،په ۱۳۵۳ ل - کال د ننګرهار د بهسودو په ولسوالی کې وزیږید،له ادب او فرهنګ سره یې مینه په فطرت کې اخښل شوی وه.

دی لا دمنځنۍ ښوونځې زده کوونکې و،چې له شعر اوادب سره یې دژورې مینې له امله د ښوونځې په ځانګړو غونډو کې پر دریځ را ځرګند شو.

دده فطرې جرءت او استعداد دې لا ډیر وهڅاو او دویاندې په فن کې د ښوونځې ښوونکو او دده ټولګیوالو هڅونې دی د یو فعال او باجرته ویاند په توګه راوځلاوه.

په ۱۳۶۹ کال کې کله چې په ټول هیواد د ناپایه جګړې سیورې خپور و، دی د ننګرهار پوهنتون دادبیاتو پوهنځې په پښتو څانګه کې د زده کړې لپاره کیناست او خپل فطرې استعداد او ذوق خړوبونې ته یې لا ډیره مخه پرانیستل شوه.

په ۱۳۷۳ کال کله چې دی د ننګرهار پوهنتون څخه په اعلی درجه فارغ شو، نو پر هیواد د ویر، وحشت،ډار، وژنو، وهنو

Ketabton.com

او ترنو یو سراسري سیورۍ خپور و، دخپل اسکیرلي،نتلي او ځپلې ټولنې د محرومو خو مقاومو خلکو د غږ اوچتولو په موخه یې ژورنالیزم ته مخه وکړه او ادبیات، فرهنګ او ژورنالیزم یې په یو وریښمین ادبي مزي سره وتړل او چې پر هیواد د یو ملي بدلون او اوښتون څپه راواوښته ، نو دی د ژورنالیزم په ډګر کې نومیالی شو.

په دغه ډګر کې دی هم د نورو غونډې دی هم وحشت او دهشت ، ویرې اوترهې په لاسونو او ګواښونو وویرول شو،وډار کړای شواو وځپل شو، خو دده ذهن ،فکر او قلم نه یوازې داچې پڅ نه شو ، بلکې لا ډیر تیره شو او دریځ یې کلک او مقاوم شو.

نه یې د زندانونو پروا وساتله او نه یې د ویرې او ډار ... په ډاډه زړه یې د خپل ولس د غږ اوچتولو توغ په لاس کې رپانده وساته ، سره له دې چې ژورنالیزم دده ادبې فعالیتونو لږ څه ټکنې کړل،خو دادی د لویو او نویو ادبي زیږونو او پنځونو لپاره دده د خلاق فطرت یوازې دمه اوساه اخیستنه وه.

اوس چې لږ له ساه ډوبې چاپیریال نه راوتلی،نو دادی خپل اصلي رسالت او مسوولیت ته بیا هڅیدلی، دکتابونو په لیکنو ، د سفرنامو ، خاطرو ،یادداشتونو په خونډې کولو او دخپل زړه غږ د خپل ولس او خلکو سره په شریکولو خپل ادبي مسولیت سرته رسوي .

د (حضرت باز ژوند او فن)دده د وروستیو پنځونو بیلګه ده، وایي چې زده کړه له کوره ترګوره پکار ده، ښاغلی همدرد اوس اوس د پښتو ژبې ا وادبیاتو دماسټرۍ زده کړې بشپړې کړي او د ماسټر په سویه ټولنې

Ketabton.com

د خدمت لپاره وړاندې شوی، زه یې د ادب ، فرهنګ ، ژورنالیزم او کولتوري پراختیا په ډګر کې تر دې دسترو بریاوو هیله من یم.

په درنښت
په اسلام او پښتونولی مین
محمد داود وفا

Ketabton.com

دکتاب ځانګړني :
==========================
دکتاب نوم : دحضرت باز ژوند اوفن
لیکوال : استاد شیرشاه همدرد
اړیکي : ۰۷۰۰۶۰۱۵۰۹

Sh.hamdard@yahoo.com

کمپوز : لیکوال
ډیزاین : ډاکټر انتظاراحمد همدرد
چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه
انلاین خپرونکي : کتابتون

Ketabton.com

## حضرت باز دلیکوالو په اند

د پښتو ژبې او ادب پیاوړی لیکوال او کره کتونکی استاد محمد اصف صمیم چي په خپله په ژوندۍ بڼه د هغه د فن پارو ننداره کړې وایی:
حضرت باز استاد ما په داسې عمر کې لیدلی وو چې زه ځوان وم او هغه د پاخه عمر سړی وو چې د هنرنمایی او هنر ښوونې ځانګړی ذوق یی لاره ،هغه یو ولسی شاعر وو یو مزاح او ظریفه الذوق استاد وو چې د خپلو ننداړچیانو او مینه والو په بوختولو کې ځانګړی استعداد یی لره .او دظرافت طرز یی داوو چی کله یی سندره وویله ورپسی به یی یوه ټوکه او لطیفه وویله او دهغه سره په تړاو خپل یو جوړ کړی شعر به یی هم ویل چې په خپله به یی کمپوز کړی وو او ورسره به یی دمکالمی شکل هم ورکوه ،مخامخ به منور استاد ورته ناست وو ،هغه به منور استاد مخاطب کړچې منور استاد!هغه به ویل ها،بیا به ویل چې څنګه چل وو ،اودده ددې مکالمو نه هم خلکو ډیر خوند اخیست،په ودونو کې دشپي تر ناوخته پوری زیاتره خلک به ددته ناست وو،خلکو به دنورو هنرمندانو ساز ددی لپاره اوریده چې وروسته به باز استاد راځي.
استاد صمیم وایی :حضرت بازد خلکو په وینښتابه کې پوره ونډه درلوده ځکه چې هغه یو طناز انتقادي طبیعت درلود ،په ټولنه کې به یی چې ناخوالي لیدې هغه ته به یی د طنز او ملنډ و رنګ ورکاوه ،نه به په چاړواکو بد لګیده اونه هم په ولس ،په ولس خو به ځکه بد نه لګیده ،هغه څه چې د ولس درد وو ،په خپله به یی نه شو کولی،دده په خولې به اوریدل .
استاد صمیم زیاتوي،ده به چې څه ویل ،کیدای شي ،ځیني به یی له  نورواوریدلی وې خوډیریی خپل وو،یعنی دده تخلیق به وو ځکه خلکو به له بل چا نه و اوریدلې.
د باز دشاعرۍ په اړه استاد وایی ،شاعرۍ یی ولسي وه که څه هم چې شاعرۍ به یی له تفننه ډیر ډک نه وو،خو دولس نبض یی ډیر ښه پیژندلې وو ،اولس چې به څه غوښته ،ده به وړاندی کاوه ،استاد زیاتوی هغه مهال مطبوعات ډیر نه وو ،که و هم د

Ketabton.com

خلکو دردونه به یی نشو منعکسولی خو حضرت باز استاد به په طنز کې هغه وړاندې کوله ،په شاعرۍ کې یی که هنر نه وو ،خو پیغام پکې موجود وو.
خوږ ژبی شاعر او لیکوال بازمحمد عابد بیا وایی،زما جالبه خاطره داد ه کله چې زما ترونه او عزیزان که څه هم چې له ما به مشران وو ،زه به یی لیدم نو راته به یی ویل ،باز استاده سترګی مه شی،زه پوهیدم چې هغوي به دحضرت باز مینه په ما کوی ځکه چې ز ه ماشوم وم حضرت باز استاد به زمونږ کلې ته یعني ثمرخیلو ته به راته او د خلکو په ښادیو کې به یی برخه اخیستله او زمونږ کلې کې به چې د چا واده او یا خوښۍ مراسم و،نو کلیوالو به پرې شرط ایښودله چې حضرت باز استاد به خامخا راولي نو ما به لیدل چې حضرت باز استاد سندرې ویلي او یا به یی ټوکې کولې ،نو یو مخ خنداګانې وې او ماته داډېرجالبه و،مګر د شپې لخوا به چې دی میدان ته راووته،خلک به په دې طمعه و چې حضرت باز استاد به کله سندرې وایی اوټوکې به کوي زه چې د ۱۳یا ۱۴ کلونوبه وم،ډیر ه تلوسه به مې و ه چې باز استاد به کله راځې و مونږ خندوي.
ښاغلی عابد وایی،ما لپاره دده ګذارونه ،ټوکې اومسخرې چې ته خلکو پوري کولی ډیر جالب وو.هغه که کومه ترخه خبره هم کوله خو په طنز او خندا کې به یی کوله نو ځکه په چا به بد نه لګیده .
ځوان لیکوال اوژورنالیست هجرت الله اختیار د حضرت باز په اړه وایی :ماته د حضرت باز نوم ډیرعجیبه ښکاریده ،کله چې ما دحضرت باز نوم د مشرانو نه اوریده ،ما فکر کاو ه دا به یو افسانوي نوم وي،دده کیسې هم ماته افسانوي او خیالي ښکاریدې ،مشرانو به ویل چې کله به ده له ځانه وزه جوړه کړه ،میدان ته به راووت،خلک به یی خندول، ماتراوسه نه په کوم کتاب ،مجله او یا هم راډیو کې څه نه وو اوریدلې نه څه لوستلي ځکه ماته خیالي او افسانوي ښکاریده ،ما فکر نه کاوه چې دې به په حقیقت کې یو څوک دی ،یا په ټولنه کې یی ژوند کاوه،څه ډول ژوند به یی درلود، اوس چې مې واورید ه چې کتاب پرې لیکل کیږي،ډیر ورته لیوال یم چې ژر یی ولولم او دقیق پوه شم چې دی څوک و؟دکوم ځای و؟چیرته به یی ژوند کاو؟ژوند یی څرنګه وو؟زه فکر کوم زمونږ کثر ځوانان به همداسې فکر کوي ،او دحضرت باز دژوند هغه برخه چې ده به څنګه تمثیل کاوه،په شفاهي ډول خلکو اوریدلي کره معلومات څوک نه لري ،زه او هم

Ketabton.com

په دی باور یم چې خضرت باز به دهغه هنري نوم وی،اصلي نوم به یی بل څه وي،لنډه داچې دغه کرکټر هم زما لپاره او هم دنورو څوانانو لپاره یو په زړه پوري کرکټر دی اووي به .

Ketabton.com

## په پښتو ولسي ادب کې نوې هڅه

د حضرت باز ژوند وفن مې سر تر پایه ولوست.ښاغلي همدرد په لوړ ذوق او مینه ناک احساس دپښتو د ولسي ادب یو نامتو سندربول او ټوکمار له هېرې ژغورلی . په رښتیا چې حضرت بازد پښتو د ولسي موسیقۍ او هنر نه هېرېدونکی استازی دی. حضرت باز پخپلو ولسي نندارو،ټوکو،داستانونو او شفاهي کیسو،سروکو او بګتېو د پښتنو دېرې تودې کړې وې او له دې سره سره چې خپه زړونه یې خوشالول او کنګل دماغونه یې روښانول،دژوند او روح د کیفیت یو ښاپسته امتزاج و.

نن مونږ وینو په پښتو ډرامو او فلمونو کې د هغو کتونکي ډېر وي چې ولسي رنګ لري او د حضرت باز په څېر د ذوق خاوندان د نورو په نسبت خلک ډېر خوښوي. اوس چې دثبت او ارشیف وسایل غښتلي شوي، دنامتو هنرمندانو اثار په هر ځای کې خوندي کېدای شي.خو پخوا چې دا وسایل نه و،زمونږ د ډېرو ولسي هنرمنداتواثار او هنري کار زمونږ له سترګو پناه شوی،په دغو کې یو حضرت باز هم دی چې دهنر ډېره لږه برخه یې د موسیقۍ په مځکنېو دودیزو پروګرامونو کې ثبت شوې،خو دهغه ذوق او هنري وړتیا تر اوسه دخلکو په یاد ده او خوله په خوله له یوه نه بل ته لېږدي.
د حضرت باز د مړینې ایله۲۳کاله کېږي،په دې دومره موده کې دافغانستان خلکو ډېرې سړې تودې ولیدې،نظامونه بدل شول او ور سره ذهنیتونه هم ورځ په ورځ بدلېږي،مرګی هره ورځ زمونږ مشران له مونږ نه بېلوي او زړې خاطرې له ځانه سره وړي.
شېرشاه همدرد ډېرې ښې موضوع ته پام کړی،دپښتو دیوه نامتو خو پناه کېدونکي هنري هستۍ ژوند ژغورنې ته یې مټې رابډ وهلي او د حضرت باز په ژوند او فن پسې په وطنونو ګرځېدلی. دده دوستان ،خپلوان او اړیکوال یې ګړولي او د هغه دفن نا یابه مرغلرې یې له هېرې ژغورلي دي.
شېرشاه همدرد چې دحضرت باز په اړه مهم څه اورېدلي،هغه یې راټول کړي او لیکلي.ټوکې او ولسي کیسې که د ساعت تېرۍ لپاره دي،نو پکې یو ژور او پټ انتقاد هم شته چې په یوه نه یو اړخ کې زمونږ راتلونکې ته تجربې زیاتوي.
د حضرت باز په ټوکو او ولسي کیسو کې دپند او عبرت برخه هم شته.

۱۳ م نمبر کیسه چې ښاغلي همدرد د ټوکو په کتار کې ثبت کړې،دپند او عبرت ښه نمونه ده.
د پښتوله ولسي ادب او نندارو سره زمونږ تاریخ او فرهنګ تړلی موږ دنړی دنورو ملتونو غوندې ساینس،ټکنالوژی او د علم،ادب او تاریخ نوي وسایل نه دي اماده کړي،نو خدای تعا لی پر مونږ لورینه کړې،زمونږ ولسي فولکلور یې دې اړتیا ته وسیله ګرځولې،زمونږ په ولسي ادب کې کېسې،چاربیتې،لنډۍ او ولسي اصطلاحات او محاورې زمونږ د ژوند او تاریخ مستند اسناد دي او دژوند پر ټولو برخو ولسي ادب خپل خپل اغېز پریښی. د حضرت باز فن هم د همدغه ادب او هنر یوه مهمه برخه او ساتنه او پالنه یې د اصیلو هنري ذوقونو لپاره تسکین دی.
شېر شاه همدرد د لیکوالۍ او خېړنې ښه استعداد لري خو دی ژوندنیو اړتیاوو او په تېره ژورنالیزم ډېر بوخت کړی.دا چې ثو کاله وروسته ښا غلی همدرد خپل اصلي لوري،ادب ته پام واړاوه،دا زمونږ لپاره بل زېری دی.خدای دې وکړي چې دی لا ډېرو لیکنو ته وهڅېږي او له خوځنده استعداد نه یې لوستونکي ګټه واخلي.
زه ډاډمن یم،که زمونږ دادب د لارې راتلونکي ځوانان دده غوندې فکرونه وپالي او دخپل تاریخ،فرهنګ،ادب او فوکلور په راټولونه کې لږ تر لږه د ښاغلي همدرد په کچه ځان ستړی کړي،نو د خپلې ژبې او ادب په مخلصو ارادتمندانو کې به د درناوي وړ ځای ولري.
دحضرت باز روح ته د ښښنې په دعا او ښا غلي همدرد ته د اوږده ژوند په هیله.

تاسې او دوی ته په درناوي
محمد داود وفا
۱۳۸۸ -۹-۲۵
جلآل اباد

ارزونه:
(د حضرت باز ژوند او فن)نومې دغه ادبي هڅه چې محترم ورور شېرشاه همدرد د خپل فراغت د سند په توګه کړې،دحضرت باز ورک او شیندلي طنزي منظوم او منثور ایجادیات راغونډ کړي،پر یادښت برسېره، پرې ګټوره سریزه هم کښلې او د اوو اتو ماخذو څخه یې استفاده کړې ده،د قدر او ارزښت وړ کار بولم.
د اصلي موضوع په روښانولو او څرګندولو کې د( حضرت باز ژوند لیک،هنري ذوق،منظوم طنزونه او حکایوي طنزونه)تر عنوانونو

لاندې د ليکوالۍ د فن سره سم،د لوستونکو د پوهېدو او خبرېدو په کار کې ستونزه له منځه وړې.مناسبې او خوږې جملې يې کارولي دي.د ضرورت او اړتيا له مخې يې لمن ليکونو کې ابهام له منځه وړی. زه د ګران شېرشاه دغه زيار د حضرت باز د هنري ژوند د لا جوتېدو په لار کې يوه بنيادي هڅه بولم او د قدر په سترګه ورته ګورم.پيشنهادوم چې د نوموړي د فراغت له پاره دې،لکه څنګه چې په ازموينو کې په عالي نومرو بريالی شوی،دغه زيار هم په عالي توګه وګڼل شي. په راتلونکي کې ورته لا برياليتوبونه غواړم.

ومن الله التو فيق.

پوهنمل شاولي

۲۰ کب_۱۳۷۳_د خالي ورځ

## يادښت:

زمونږ د پښتو ژبې فولکلور خورابډای دی،خو د نظم او نثر دواړه برخې يې اوس هم ډېر کار ته اړتيا لري،چې سره راټولې او په ليکلي بڼه ثبت شي.

ددې کار ارزښت په دې کې دی چې شفاهي ادب د پرونۍ ټولنې د وګړو احساسات ،عواطف،غوښتنې او دژوندانه طرز،اقتصادي،فرهنګي او نورې ډېرې خواوې موږ ته جوتوي او د نننۍ ټولنې د څرنګوالي سره يې د پرتلې په صورت کې هرو مرو خپلې نيمګړتياوې او برياوې پېژندلای شو. نه يوازې ژبپوهاند او او تاريخ پوه د اړوندې ټولنې فولکلور پېژندنې ته اړ دي،بلکې يو اروا پوه،جغرافيه پېژندونکی او سياست پوه هم د اړونده ټولنې د فولکلور د مطالعې په برکت دخپل تېزس په بشپړتيا کې ترې استفاده کولای شي.

دفولکلور په راټولولو کې دا معيار چې دهغه ښه توکي دې راټول او بدې دې پرېښودل شي،معقول نه برېښي.هغه چې نن زموږبدايسي،کېدای شي سبا ته زمونږ په درد وخوري او ګټور ثابت شي. زه هم دتحصيل په بهير کې خپل يو استاد دې ته وهڅولم چې د حضرت باز په ژوند او فن څه راټول کړم.په لومړي سر کې راته ډېره اسانه او ساده موضوع ښکاره شوه،خو کله مې چې لېځې پسې راونغاړلې،اصلي ستونزه مې دا وه ،هغه کسان چې حضرت باز ورسره په هنري ژوند کې نږدې و،اوس يا ژوندي نه دي يا په هېواد کې نشته. زما خو دا خيال و،هر چېرې چې زه د نوموړي د فن پارو غو ښتنه وکړم،هرو مرو به راته هر

څوک څه نا څه وويلای شي،ځکه هر چېرې چې سړی کېني نو د ټوکو-ټکالو په لړ کې د حضرت باز ټوکه د سارې په توګه راوړي.
زه په خپل ګومان کې تېر وتلی وم،يو خوا بل خوا مې لټه وکړه،ځينو راويانو راته د حضرت باز ټوکې او ويشتې چې زياتره يې نکلي بڼه لري او دغه راز د حضرت باز ځينو مينه والو راته يو نيم کسټ په واک کې راکړ. ما زياتره له کسټ څخه په امانت داری څو کرښې دلته د کا غذ په مخ وکښلې،هېڅ راز تصرف او عدول مې نه دی کړی.هيله ده،لوستونکي مې د جملو په تر کيب کې ملامته ونه بولي. ما صرف د حضرت باز ځينې ټوکيز نکلونه او نظمونه په دې موخه را ټول کړل چې د نوموړي هنري پنځونې او ايجاديات دمرګ او ورکې څخه بچ کړای شي.
پورتنيو ارزښتونو ته په پام،اوس يو ځل بيا،په کليو او بانډو وګرځېدم،د حضرت باز د هغه مهال د هنر مينه وال مې چې اکثراً يې سپين ږيري دي،وګړول.د نويو زياتونو سره غواړم دحضرت باز ژوند او فن د کتاب په بڼه چاپ او د هغه د هنر مينه والو ته يې وړاندې کړم چې دغه د پښتو ملا نصرالدين نوم څه نا څه ژوندی پاتې شي.
يو شی چې زه يې د حضرت باز ټوکيزو نظمونو او ټوکو راټولولو ته لا وهڅولم،هغه د( شکاياتو صندوق)نومي طنزي اثر د سريزې لوستل و . په سريزه کې د حضرت باز په اړه ليکل شوي وو:
(دکابل_جلالاباد دسپرليو په يوه موټر کې دوه تنه پر يوې چوکۍ ناست وو چې يو يې سپين ږيری و . ځوان سپين ږيری ته د خبرو په لړ کې وويل: پښتانه ښه خلک دي خو افسوس چې پيغمبران پکې نه دي تېر شوي.
سپين ږيري په قهر وويل:
ولې؟ دا عيسی خان او مو سی خان ګنې ستا د پلار نوکران دي؟پيغمبران نه دي نو څوک دي؟
ځوان دستي خبره بدله کړه،ويل: کا کا خوله مې غلطه شوه،مطلب مې ملا نصرالدين و،نه پيغمبران.
سپين ږيري په زغرده ځواب ورکړ: ولې؟ حضرت باز له ملا نصرالدين نه څه کم دی؟)
له دې امله مې و پتييله چې د حضرت باز طنزي نکلونه او نظمونه سره راټول کړم،ژوند ليک يې و کښم چې سبا ورځ زمونږ راتلونکي نسل ته يې پېژندنه معما نه اوسي.

هيله ده،تاسې ته به په زړه پورې وي.

په مینه
همدرد ۱۳۸۸ ل_دکب پنځمه
د پیلیزې په توګه:
اولسي ادبیات داولس دهیلو او غوښتنو رښتینې هنداره ده چې دټولنې مات ګوډ اړخونه او نیمګړ تیاوې پکې له ورایه ښکاري.په حقیقت کې زمونږ اولسي ادبیات زمونږ داولس د خیالاتو او افکارو څرګندوی او د واقعتونو منعکسونکی دی.همدا اولسي شعر دی چې د اوسني(لیکلي) شعر بنسټ یې ایښی او لار یې ورته پرانستې ده،نو ویلای شو چې فولکلوري ادبیات د اوسنیو ادبیاتو پیلامه ده.دا اولسي شاعران دي چې له تصنع او تکلف پرته هنري زېرونې کوي.له طبیعت څخه الهام اخلي،د ټولنې ستونزې، نادودې،او نا خوالې د اولس په ژبه ، سره پيي او بېرته یې د شعر یا طنز په ژبه خلکو ته وړاندې کوي.
شاعران تل د زمانې سره په جګړه کې،د یو روڼ سباوون په هیله،د سبا خبرې نن کوي او د ټولنې وګړي خپل راتلونکي ته ځیروي.هغه شاعران چې په خپلو شعرونو او نظمونو کې د طنز مالګه ور زیاتوي، په حقیقت کې  دخپل اولس په ویښتیا او سیاسي شعور لوړولو کې چې اصلي موخه  یې ده ،اغېزمنه ونډه اخلي.خو لکه څنګه چې د شعر ملکه په هر چا نه کښیني،دغسې د طنز جوهر هم په هر شاعر کې نه وي.داستاد الفت خبره :
رنګا رنګ ګلونه وا شي په بېديا کې

– پېکې یو نیم د لیلي پیکي له ورشي
په اولسي شاعرانو کې هغه څوک چې شعر یې هم د طنز مالګه لري او خبرې یې هم،هغه مشهور سندرغاړی او ټوکمار حضرت باز دی.
دحضرت باز د مینه والو په وینا:
حضرت باز به چې کله د خوښیو په محافلو کې ټوکې کولې ،د خلکو به ورته له خندا کولمې شنې شوې.دده لوستي مینه وال بیا ویل :که څه هم چې حضرت باز ظاهراً خلک خندول خو ددې ترڅې خندا تر شا یو عالم غمونه او اندېښنې هم پټې وې،ځکه ده د ټولنې پر نیمګړتیاوو او د خلکو په وروسته پاتې والي ملنډې وهلې او دا نیمګړتیاوې او وروسته پاتې والی،ناوړه دودونه او د بې سوادۍ ناروغي چې تر اوسه لا ترې ستونزې زیري د ژړا وړ دي.



Ketabton.com

دده هرې ټوکې ته كه څوك ځير شي،دا دواړه به پكې ومومي.نو په دې ډول،بيا هم  دټولنې اصلاح او سمون يې مو خه او هدف دی.
حضرت باز هغه ټوكمارو چې دا پازه يې په ښه انداز تر سره كولی شو،خو دريغه چې نا لوستی و او خپل اشعار او طنزي نثر يې د كاغذ پر مخ نشو ليكلی،تېرو تجربو ته په كتنه زمونږ دډېرو نوميآليو اولسي شاعرانو مرغلرې چې د زمانې په تېرېدو د كاغذ مخ ته نه دي رسيدلي،د خاورو سره خاورې شوي او د مرګ كومې ته لوېدلي دي.له همدې امله مې د موضوع سره دلچسپي لا زياته شوه .په دې باب مې لومړی خپل لار ښود استاد،محترم پوهنمل شاولي سره مشوره وكړه،هغه لا و هځولم.دموضوع په سكېچ او ټولولو كې يې راته وخت په وخت علمي لارښوونې كړي او زه يې خپلو نيمګړتياوو ته ځير كړی يم چې د زړه له كومې ورنه مننه كوم.

د اړونده مطالبو پسې مې د ډېرو خلكو خولې بوي كړي او د ځينو هنرمندانو له خولو او كسټونو نه مې دده يوه يوه مرغلره را ټوله كړې ده.هغه مې سره ترتيب كړي ،چې په وروستيو مخونو كې به يې لوستونكيو ته وړاندې كړم.
دده دژوند په برخه كې مې هم د هغو خلكو سره خبرې كړي،كوم چې  دباز د هنر انګازې يې لا تر اوسه په مغزو كې ژوندي دي.
دده دخپلوانو سره مې مركې وكړې،خو پوره معلومات مې تر لاسه نه كړای شول.بيا شكې ته لاړم او دده دزوم سره مې سر خوګی وكړ خو له بده مرغه هغه ته هم پوره معلومات نه و، خو دومره ګټه يې وكړه چې ددې نوميالي د زامنو پته را په ګوتو كړه.
په دې برخه كې د ګران وجيه الله مرسته هم د يادونې وړ بولم او مننه ورځخه كوم چې دده دزوم سره يې زما پېژندګلوي وكړه.
د ژوند ليک په برخه كې مې د لا زياتو معلوماتو په خاطر پېښور ته سفر وكړ،دريغه چې د هغه د زامنو كور مې پيدا نه كړای شو.خو له نېكه مرغه دغه نيمګړ تيا راته محترم او فاضل استاد محمد اصف (صميم) د مهربانۍ له مخې بشپړه كړه چې زه يې ځان د احسان پوروړی ګڼم.په دې توګه له ډېرو كړاوونو وروسته مې دده ژوند ليک په بشپړ ډول راټول كړ

ما تر خپلې وسې زيار اېستلی،چې د باز ادبي مرغلرې را غونډې او د نابودۍ له کندې يې بچ او د ادب مينه والو ته يې ډالۍ کړم او خپله علمي رساله پرې سر ته ورسوم.که په دې برخه کې کومې نيمګړتياوې وي،هيله ده،ګران لوستونکي به مې وبخښي.
په ګران افغانستان کې د يو روڼ سباوون په هيله!

شېر شاه همدرد
۱۳۷۳-کال

# ژوند ليک

حضرت باز د سيد مومن زوی،په ۱۲۹۵هجري شمسي کال دننګرهار بهسودو د سراچې د پيتاوې په کلي کې زېږېدلی دی.نوموړی په قوم عرب او مورنۍ ژبه يې دري وه.پلار يې د خپل وخت د قوم ملک و.په اولس کې يې پلار د چا د وينو پوروړی و؛ خپل راتلونکی يې د انتقام دګواښ سره مخامخ ليدله،د نا چارۍ له امله يې دننګرهار د ښېوې ولسوالۍ د پلوارۍ کلي ته (دقيقه نېټه يې نه ده معلومه) په غالب ګومان ۱۳۲۱ کال کډه وکړه او د لعل اغا په نوم چا سره دېره شو.
باز له دښمنانو نه په ويره کې د غم شپې ورځې تېرولې.ده د موسيقۍ او هنر سره مينه او په فطري ډول يې د ټوکو او ويشتو مزاج درلود ،چې په همدې ټوکو يې ځان خوښ ساته.
ده له لرګي يو مصنوعي ټوپک جوړ کړ او د بسم الله سره ؛ چې د خپل وخت مشهور کيسه ويونکی و،يو ځای شو او خپل وخت به يې ښه تېراوه.
دی لا دهنري شهرت بام ته نه و ختلی،چې د سلامپور سيد عباس پاچا او بابا پاچا ددوی هنري ډله راوغوښتله.کله چې هغوی ددوی د حجرې مجلس او طنزي نکلونه واورېدل؛زښت پرې ګران شو.وايي چې دعا يې ورته وکړه،چې شعر دې جاري شه! پر دعا سربېره د کال درې اوښه غله يې پر ځان د کلنګ په توګه ومنله،چې ډېر کلونه ورته دغه غله د ناظر په

لاس وروړل کېده.په دې توګه د باز د هنر هنګامه تر هر ځایه خوره شوه او د شهرت بام ته وخوت.
په کوم کور کې چې حضرت باز اوسېده،د اوسېدو نه و.غلام رسول چې هغه مهال د ننګرهار بانک مدیر و،ورته یوه مېنه او ۲۵ زره افغانۍ د بخشش په ډول ورکړې،چې د سردار داوود خان د ریاست تر وخته په همدې کور کې اوسېده.کله چې سردار داوود ورته بلنه ورکړه؛ده خپل هنر د سردار په مخ کې وښوده.دده دزوم نورمحمد جاله وان په وینا:
(خسر مې د یوې ټوکې په ترڅ کې خپل ځادر د سردار مخې ته خور کړ.کله چې ټوکه پای ته ورسېده؛سردار ورته وویل: تشکر ،تشکر،تشکر.
ده د ځادر څنډې په کراره را پورته کړې او د خندا په څپو کې یې وویل:
سردار صیب ! دا ځادر خو ډېر سپک دی . ما ویل دا تشکر به یو شی وي چې زه به یې نه شم وړلی.دا خو ډېر سپک دی.بیا یې د ملنډو په ډول وویل:زه لا تر اوسه د پردي په کور کې اوسېږم،ته راته تش تشکر وایې!؟ داسې څه راکړه چې ژوند مې پرې ښه شي.
هماغه و چې سردار امر وکړ چې باز ته له دولتي ځمکو نه ۱۲جریبه ځمکه ورکړل شي. همداسې وشول؛ زما خسر ته د سردار صاحب په امر ۱۲ جریبه ځمکه د ښېوې ولسوالۍ د کچړې په سیمه کې ددولت له خوا ورکړل شوه.دا مهال د کچړې خلکو باز سره لانجه وکړه؛خلکو ویل سیمه زمونږ ده؛ځمکه هم باید مونږ ته راکړل شي.په دې کې باز دعوه و ګټله او هلته یې ۲ مېنې جوړې کړې.دا مهال یې د ژوند سطحه نوره هم لوړه شوې وه.وروسته بیا د ثور کودتا وشوه،د وخت له ظالمانو په تنګ شو او په ۱۳۵۸ هجري شمسي کال،هجرت ته مجبور شو او پېښور ته یې کډه وکړه.
هلته لومړی په کچه ګړۍ کې دېره شو وروسته یکه غونډ ته کډه یوړه.
وایې چې په پېښور کې چا ورته څه ورکړل او په عصبي ناروغۍ اخته شو.له ده سره د وطن مینه زیاته وه،نه یې غوښتل چې مړی یې مسافر شي او په پردي وطن کې ښخ شي،له همدې امله،خپل یو زوی او یوې لور سره په ۱۳٦۵ کال کې بېرته خپل هېواد ته راستون شو. ډېر وخت لا نه و تېر چې په همدې کال د ورپېښې ناروغۍ له امله ،د اختر په

Ketabton.com

ورځ،داختر له لمانځه وروسته،د ۷۰ کالو په عمر له دې فاني نړۍ يې سترګې پټې کړې او د خپل کلي د بالا بغټ بابا په هديره کې خاورو ته وسپارل شو.ارواه دې ښاده وي.)
باز شپږ اولادونه درلودل،چې ځلور يې لوڼې او دوه زامن وو.

# دباز هنري او سندريز ذوق

باز سره له دې چې د موسيقۍ په ټولو لوازمو او الاتو نه پوهېده،خو د خپلې هنري ډلې لپاره يو ښه اركستر و.دی يوازې په هارمونيه پوهېده،د ادم خان او درخانۍ كيسه به يې د هغې په پردو كې ډېره ښه غږوله او خپل وزګار وخت به يې پرې تېراوه.كله كله به يې خپل غمونه او اندېښنې ورباندې هېرولې.

هنر ته يې د مخه كولو عوامل:

حضرت باز دخپل ذاتي استعداد او شوق له مخې هنر ته مخه وكړه او د كوم هنرمند له لارښوونې پرته پرې لاسبرى شو.
ده به د ساز او سندرو په ترڅ كې خپل طنزونه او مزاحيې اورولې. په فلكلوريكو ادبياتو كې دغه فن د ولسي ننداره په نامه هم ياد شوی.
د موسيقۍ نړۍ ته د يو طنز ويونكي او هنرمند په توګه دده قدم ايښودل،كه له يوې خوا د مينې او شوق له مخې و ،له بل پلوه له بېوزلۍ او خوارۍ نه د ځان ژغورنې په خاطر،دغه لار ورته مناسبه ښكارېدله.دوخت دحاكمانو او ملكانو مادي پېرزوينې دې كار ته لا وهڅاوه.

تعليمي سطحه:

كه څه هم باز د ليک او زده كړې خاوند نه و،خو د سردار داوود او غلام فاروق وزير غوندې لوړ رتبه خلكو سره دده ناستې پاستې،د سلا

Ketabton.com

مېور او نورو ساداتو،دهغه مهال ولسي مخورو،خانانو او ملکانو سره د نژدې اړيکو له امله دی دژوند په چال چلن ښه پوهېده.دخپلو خبرو او ويناو لپاره د وړ محل او مهال په پېژندنه کې ښه ماهر و.

ژبه :

د باز مورنۍ ژبه(لکه دمخه مې چې وويل)دري وه ،خو له پښتو ژبې سره دده ځانګړې مينه او د چاپېريال د اغېز له امله،له دري نه پر پښتو ژبې ډېر برلاسی شو،ان تر دې چې دده په پښتو ويلو کې د دري ژبې اغېز په نشت شمار ده. زه لا تر هغه وخته دده پر مورنۍ ژبې شکمن وم ؛کله مې چې دده له زوم نه په دې هکله پوښتنه وکړه او هغه راته په ځواب کې وويل: کله به چې خوابښې او خسر مې(حضرت باز او مېرمن يې) زمونږ کور ته راتلل؛په خپلو منځو کې به يې سره په دري ژبې خبرې کولې.

# د باز فن :

دلته د باز فن په دوو برخو ويشو :
(١ ) نظمي بر خه :
(٢) نثري برخه :

- (نظمي برخه)

حضرت باز د هغه ذاتي او فطري استعداد له مخې،چې د نظم په جوړولو کې يې لاره انتقادي او طنزي نظمونه يي ډېر ويلي او د مو سيقی په پردو کې يي خلکو ته وړاندې کړي



Ketabton.com

دي.دده طنزي ادا او سبک،دده دنظمونو اغېز پر خلکو لا زيات کړی و.
دده استعداد ته ذاتي يا فطري ځکه ويلای شو چې ده به خپل ټول نظمونه او ټوکې په يادو زده کولې . وړتيا ،ذکاوت او ښه ذهن ده لپاره شفاهي ديوان و. ښه استعداد او ټوکې دی تر درباره ورساوه،خو هېڅکله يې هم ددرباري مدا حانو په څېر خپل هنر په چاپلوسۍاو غوړه مالۍ تور نه کړ.
لازمه ده چې د باز نظمونه لومړی د جولې يا شکل له مخې مطالعه او بيا يې منځپانګه وګورو.

## الف: د جولې (شکل) له مخې:

حضرت باز اکثرً په پښتو ولسي اوزانو يا فورمونو کې نظمونه ويلي دي،لکه چاربيته،بګتۍ،لوبه غزل ...او نور.
ده اکثرً خپل شعرونه د ولسي موسيقۍ د پردو سره عيار ويلي،ځکه دی په تخنيکي ډول د شعر په فورمونو نه پوهېده،د موسيقۍ د پردو لپاره يې عيارول.
شعر يي روان ،ساده او په ولسي ژبه ويل شوی دی. په شعر کې يي تکلف ، تصنع او تير وېستنه نه تر سترګو کيري.له خپل چاپيريال نه يي رنګ اخيستی او بېرته يي د اولس په ژبه اولس ته وړاندې کړي دي.

دلته به بې ځايه نه وي که د پښتو ولسي وزنونو په جولو لږه رڼا واچوو.

## ب:دمنځپانګې(محتوا)له مخې:

د حضرت باز نظمونه د منځپانګې له مخې څرګند او زړه خوشالونکي دي.دده په هره هنري زېړونه کې د اولس ويښتيا،هڅونه او پر ټولنيزو نيمګړتياوو نيوکه ده او هم يې شعرونه د پښتني احساساتو انځور دی.د اولس سره داولس په ژبه ګړيدلی،د خپل چاپيريال وييونه يې زيات استعمال کړي او له هغو څېرو چې خلک غولوي،کبر کوي،غولونکی نقاب پورته کړی او ملنډې يې پرې وهلي دي.
دده په کلام کې انتقادي رنګ غالب دی.دی دموضوع ګانو لټه په انتقادي شکل سره کوي او دخپل صاف زړه بړاس په انتقادي منظوم کلام سره وباسي.لکه چې وايې:
لکه فرعون په چوکۍ ناست په پوزه مچ نه پرېږدې

ځان دې خبر کړه چې نن حکم د موسی چلیږي
حضرت باز ټولنیز حقایق او د اولس د زړه غږ،په انتقادي بڼه له خولې وباسي او همدا زموږ د اولسي شعر ځانګړنه ده،ځکه اولسي شعر د اولس هنداره ده او په هنداره کې هر څه هغسې ښکاري،څنګه چې وي.
دی د مظلومانو اه وفریاد په زغرده د ظالمانو غوږونو ته رسول غواړي او وایي:
د مظلومانو غوښې خورې ځان دې لېوه فرض کړی
څو به په کونډو یتیمانو حکم ستا چلېږي
دده په شعرونو کې د ازادۍ مینه جوته ده،د ازادۍ کړیکه هم د یرغلګرو او ظالمانو له لاسه د نړیوالو غوږونو ته رسول غواړي او وایي:
مرام مې ازادي ده ځان مرام ته رسوم
د روس واړه ظلمونه درست جهان ته رسوم
په دې توګه باز د ازادۍ ارمان ته ځان رسېدلی بولي او وایي:
حضرت باز وایي،مرام ته رسېدلی وخت قریب دی
په شان د مېړو درومي،زمریان پرې خبروم
که څه هم باز ځان مرام ته رسېدلی بولي،خو درېغه چې په ازاد بڼ کې د ازاد بلبل په شان چغېدلای وای. د باز نظمونه دوه برخې لري،یو یې له هجرته وړاندې نظمونه او بل یې د هجرت او پردېسۍ نظمونه دي ،چې د هرې برخې بېلګې به په خپل خپل ځای کې راوړل شي.

نظمي بېلګې یې
۱- د هجرت او پردېسۍ نظمونه :
چاربیته
روس عجب زلمي خزان کړل – په هرکهاله یې ګډسوران کړل
مال یې میراث خونې سپېرې کړې_په زلموډکې هدیرې کړې

زلمي یې کړل د خاورو لاندې – ګوره کافر چې په مونږ خاندي
څوک شول خلقیان څوک ملېشه-        ورونو عجبه تماشه
په مسلمان باندې حملې دي -        په زلمو ډکې هدیرې دي

لاسونه پورته کړۍ په جمه – چې رب مو خلاص کړي له دې غمه
کافر په زور په غرهار دی -        مسلمانانو ته په قاردی (قهر)
د پاک رسول په خاطر باندې -  خدای دې په مونږ شي مهربان

دا کور په کور نارې سورې دي - په زلمو ډکې هديرې دي

د چا شو زوی مړ د چا پلار - مخلوق خو ټول شول تار په تار
دغه کافر دښمن د دين دی - که په حديث د چا يقين دی
د چا شوه لور مړه د چا مور - په افغانستان دی ظلم زور
پرتې د وينو فوارې دي - په زلمو ډکې هديرې دي

افغانستان شو در په در - ور پسې غوځ مې د زړه سر
څوک په ميرو څوک په لاهور – ډېر دي پراته په پېښور
څوک په ايران څوک په توران – الله په دوی شي مهربان
دا لوږې تندې پرې تېرېږي - په زلمو ډکې هديرې دي

خالقه ته شې مهربان - په روی د نبي اخر زمان
اسلامي مجاهدين ته برى ورکړې –دا کافران پرې در په در کړې
د اما مانو په خاطر - دغه سوالونه زه کوم تل
د غم ګولۍ په مونږ وربېږي – په زلمو ډکې هديرې دي

Ketabton.com

د ترکي ظالم دلاس - ډېر عالمونه شول ميراث
دغه ملګری د روس و – د خنځير څوی لوی ديوس و
دا بل يې و فضل امين – دغه شيطان و ډېر لعين
ډېر عالمونه يې تبا کړه – دا لوی واړه يې په ژړا کړه
خالق شو ورته په قار(قهر) –زر يې مردار کړه دا کفار
په ورځ د محشر به معلومېږي – په زلمو ډکې هديرې دي

يادونه: له فضل امين نه مراد د ثور کودتا دويم جمهور ريس حفيظ الله امين دی چې دلته د قافيې د نيمګړتيا له امله په خپل شکل وليکل شو.

غزل

مرام مې ازادي ده ځان مرام ته رسوم
دروس واړه ظلمونه درست جهان ته رسوم

د کور ، کالي ، ډوډۍ په نامه خلک غولوي
په دې چې دوکه نه شي مسلمان پرې خبروم

په خوله باندې نارې وهي د سولې،امنيت
د سولې دښمنان دي زوړ او ځوان پرې خبروم

د چل لپاره وايي چې ملګرى د کارګر يو
په دې چې غلط نه شي کارګران پرې خبروم

بلبلو په چمن کې په ظلم شور جوړ کړى
په دې ظلم ژړلى شهبازان پرې خپروم

حضرت پاز وايي مرام ته رسېدلى وخت قريب دى
په شان د مېړو درومي زمريان پرې خبروم

لوبه



Ketabton.com

دا څه اسلامیت دی، یو ورور مري ، بل پرې خوشحالیږي

اوښکې مې ستړګو نه شېبې شېبې وریږي

خارج ته به هر چا په واسطو زامن لېږل
وطن ته به چې راغلل متنګونه به یې کول
ښکاره به کمونیزم ته هر څوک دعوتول

ددین تعلیم یې پرېښود په خلقیانو اوس یادېږي
اوښکې مې له ستړګو نه شېبې ، شېبې وریږي

هر چا به دا غوښتل چې زما زوی ډاکتر یا منصبدار شي
سر لوړی به شم قوم کې ، که صاحب داقتدار شي
که دین، ناموس پرېږدي،سیاست کې به هوښیار شي
راوړي به دوکتورا بیا به ډاکټر صاحب یادېږي
اوښکې مې له ستړګو نه شېبې شېبې وریږي

هغه زامن ،ورونه نن ستاسو دښمنان دي
په ډاګه نن د مارکس او کمونیزم پیروان دي
روس خوشحالوي،لوی واړه وژني،قاتلان دي
په هر محاذ کې مخامخ تاسو سره جنګیږي
اوښکې مې له ستړګو نه شېبې ،شېبې وریږي

د خیاله په شیطانی ورکوي خپل ایمان
د پاک دین مخالف دي عمل نه کوي په قران
ددوی مخه چا نه نیوه بیا به وروسته کړي ارمان
ددې نه عبرت واخلی،ټول برباد شول نه پوه کېږي
اوښکې مې له ستړګو نه ښېبې،ښېبې وریږي (۱)

---------------------------------------------------------------------



Ketabton.com

(۱)د مولانا محمد دين سره،د محترم استاد محمد اصف صميم مرکه،پېښور،ناصر باغ کمپ.

Ketabton.com

له هجرت نه وړاندې نظمونه:

غزل

خوار او غريب دې په شعبه کې تر سبا کړېږي
کم بخته څو به ستا ظلمونه ناروا چلېږي

د مظلومانو غوښې خورې ځان دې لېوه فرض کړی
څو به په کونډو يتيمانو حکم ستا چلېږي

لکه فرعون په چوکۍ ناست، په پوزه مچ نه پرېږدې
ځان دې خبر که ،چې نن حکم د موسی چلېږي

خپلې فايدې لپاره خومره لار په پښتو وهې ته
راکتې د ظلم چې دې وينم په هوا چلېږي

د ماموران له احوال نه ځان خبر کړه بازه
په ټول دفتر کې ميم زر ما ټوله زما چلېږي (۱)

(۱) ماخذ:
د اولسي سندر غاړي،نواب استاد له کسټ نه.

Ketabton.com

لوبه

مکتب ګل و ګلزار دی نظافت راشه وګوره
کارونه منظم دي تفتيش کړه زما وروره
په دې مهال مدير دلته الحاج غلام سخي دی
باډي دې روغني مګر ماشين دې ډيزلي دی

نه دې لياقت ، نه فصاحت لرې په خوله کې
هر چاته ته بد بين يې هم کينه لرې په زړه کې

په دغسې وضعيت کې دا ستا ډېره بد نامي ده
باډي دې روغني،مگر ماشين دې ډيزلي ده

معاون چې پيدا نه کړې ،چپړاسيانو باندې پش کړې
چې لاړ شې له دې ځايه، بيا هر چا لره ګېلې کړې
د باز نه خفه نه شې ،ددې عذر غريبي ده
باډي دې روغني مگر ماشين دې ډيزلي ده

Ketabton.com

لوبه
چرگ مې هلال کړی ،سينه وخوره پتون پرېږده
دلته قدم کېږده جلی، دلته قدم کېږده

دلته قدم کېږده جلی ته د خدای لپاره
تا له مې راوړي دي زر هم له بازاره
مخا مخ رادرومه مه وېرېږه ته له پلاره
روې دخدای وګوره،دواړه لاس په تندي کېږده

کېږگدم لاسونه یاره ستا لپاره پاس
سوال کوه له رب نه ،چې زه خلاص شم له خناس
هره ورځ دتا په سر نښلي ما سره استاذ
سینه زما چمن دی،ددنیا غمونه پرېږده

ټول عمر زه ناست یم یاره،ستا په انتظار
ټوله شپه مې تېره کړه ،لا شپه وه تر سهار
راشه حضرت بازه دا ګېلې ماڼې دې پرېږده
دلته قدم کېږده جلی دلته قدم کېږده

Ketabton.com

لوبه

لېونی ګجرې،منګی دې کوم ګودر ته وړې
په لالي مین یې،ته برابره یار ته ځې

لېونی ګجرې،شونډې دې سرې په دنداسه

ستا په پوزه چارګل،تا په سر کړې نخاسه

ستا دا سپینه خولګۍ، د زنې سر دې پټاسه
ستا خوږې خبرې ،لکه شارو وړې وړې

د شبقدر شپه ده ، عاشق چې ورشي معشوقې له

په پالنګ کې یو ځای،بیا یې راوړاندې کړي سینې له

لب په لب شي دواړه ،تاسې خو غوړ کېږدئ جرګې له
د نازولې جلۍ ، بازمحمد ښې نخرې کوي (۱)

(۱)- دحضرت باز ،د محلي سندرو کسټ

Ketabton.com

لوبه

ولویده له خیاله اوګئ په ډنډر ماته شوه
لاره لیلا لاره د موزی خونه میراته شوه

وخویده له خیاله سره د اننګی جلئ
سپینه خوله ملاله ، خپلی پښی وهی نجلئ
پریوته له ټاله ، مات یی شول بنګری نجلئ
غوره پره راغله ، دلته غلی د مور خواته شوه

مور ته یی ناری کری چی مات می شو مروند که نه
سرو لبو نه یاره ، راشه واخله خوند که نه
ته راشه بیګا له ، سینه زما چمن که نه
زر می راشه خواله ، د موزی خونه میراته شوه

دربه شم بیگاه له ، زما دزره بلبلی
سری شونډی راکره ما له ، زما دزرگی گلی
در به شی ملاله ، ته واوره نازولی
ستا خوږو خبرو ته د باز مینه نن زیاته شوه
لاره لیلال لاره د موزی خونه میراته شوه

(٥) د حضرت باز د محلی سندرو کست

د نثری ټوکو او طنزی ویناوو برخه

حضرت باز یوازی دخپلی تولنی ناخوالو او نیمگرتیاوو ته په نظم گوتنیونه نه ده کری بلکی په نثر سره یی هم پر هغو ملنډی وهلی دی
که څه هم د حضرت باز دا کار د ساعت تیری په بڼه وو خو د ټولنیزی اصلاح او خیر په لار کی هم بی گټی نه وو یعنی سمونیزه بڼه یی لرله
ده طنز د وسیلی په توگه کارولی او د خلکو د ساعت تیری او یو څه مادی هیلی په خاطر یی پر ځان هم ملنډی وهلی دی
اقتصادی کمزوری کله ناکله ځینی خلک دی کار ته ار باسی .
موږ وینو چی د امنت نومی ناول کی بادولا نومی کرکتر د نواب صاحب د خوشحالولو او د بی بی سی د نوی کور نوی ژوند په رادیوی سریال کی د ناظر رول او کرکتر ، د پښتنی ټولنی د افرادو د یو تیپ ډیر ښه مثالونه بللای شو

حضرت باز هم د خلکو د خندونی ، ساعت تیری او اشرافی طبقی د مالی مرستی د جلبو لو په خاطر پر ځان هم

ملنډی وهلی چی د هغوی انعامونه او بخششونه تر لاسه کری ، خو له دی واقعیت نه هم هیڅوک سترګی نشی پتولای چی د باز نثری او نظمی نیوکی په نا ځان خبری توګه د ټولنی او وګرو په اصلاح او سمون کی څه ناڅه ګټور واقع شوی دی
نو راځئ چی د باز دغه نثری مرغلری وګورو وی لولو او خوند تری واخلو . ها وراندی تر دی چی د حضرت باز نثری توکی ولولئ یوه یادونه ضروری بولم او هغه دا چی حضرت باز ولسی ټوکمار و ژبه یی هم ساده او ولسی وه ، په ډیرو مواردو کی یی ګرامری چوګاټونه مات کری دی . زما په اند خوند یی په همدی کی دی ځکه خو زه هم هڅه کوم ،څنګه چی باز ویلی هماغسی یی ولیکم تاسی یی هم هماغسی ولولئ کیدای شی هغوی چی حضرت باز یی لیدلی وی ،ددی ټوکو او ویشتو په لوستلو د حضرت باز طنزی باډی او حرکتونه ور په سترګو شی او له ټوکو نه به لا ډیر خوند واخلی او که چا نه وی لیدلی ممکن یوه طنازه څیره ورته په سترګو شی چی بیا هم دا تصویر د ټوکو خوند زیاتوی

## لومری ټوکه

یو سری خپل زوی ته وویل : دا خر دی نالی ته وشره توکل په خدای.
زوی یی خر نالی ته وشره .
بیا یی وویل : زویه خر وګوره چی کوم پلو لار نه شی
زوی یی چی ګوری ،خره نه دوه لیوان تاو شوی . غږ یی کر :
دادا !
پلار ییی وویل ها .
زوی یی وویل : توکل یو دی که دوه؟ ویل توکل یو دی زویه .
زوی یی وویل زمونږ له خره نه خو دوه توکلیان تاو شوی دی . ها ها ها......................

## دوهمه ټوکه

د ترافیکو دا قاعده ده چی موقع راشی دا لاس دسی
کری . نو ددی جنوبی یو سری وو ، موټر کی راسور
دی،لاری چلوی .کله چی ترافیک ته راورسیده ، نو ترافیک دا
لاس دسی که . هغه موټر ودراوه او جور په خیر یی ور سره
بنا که . ویل یی ښه یی ؟ په خیر !
دی ترافیک ویل ، ما خو ونه پیژندی ! دی ویل ، والله که ما
هم پیژندلی یی . خو تا لاس دسی که ما خیر وویل جور
په خیری راسره کوی . ها ها ها.........................

## دریيمه ټوکه

استازه ! د نعیم جان واده وو ، ما ویل والله دا سالن به یو
بل شی وی . زه نو ناست یم یو تن غږ کر ،بری باز مامد
یک قاب سالن بیار .
ما ویل والله د هندوستان نه یی راته کومه میوه راوری .
چرګان رانه انډیوالانو خلاص کرل ، چی ګورم زما مخی ته
یو قاب شوتله کیښوده . راته یی ویل بخور ،ما ویل ما ته
یی راوری .
ویل چی شی ؟
ما ویل ، سالن
ویل ، سالن همدا دی ها هاها...............
دا لا څه کی منور جان استاده ، دا هوټلیان سبایی وخته
خپل مزدوران پاڅوی ، د هندوانو او مسلمانانو کوڅو کی یی
ګر ځوی ، د نارنجانو پوستکی او دا ګازری په لمن کی اچولی
وی ، بیا یی په وریجو کی در واچوی ، در ته وایی همین
قابلی است . ها هاها.................

Ketabton.com

خلورمه ټوکه

له حضرت باز نه منور استاد پوښتنه وکره : که ته مر شوی
نو تا سره به خلک هم ډیر په عذاب وی ؟
باز ویل : ما وخته د کمره غاره کی ځای نیولی دی چا ته
تکلیف نه ورکوم . هاهاها،،،،،،،،،،،،،،،،

پنځمه ټوکه

وایی چی یو وخت حضرت باز پیښور ته مهاجر شوی وو ،کچه
ګری کی اوسیده . یوه ورځ پولیسو ونیو . ترینه یی پوښتنه
وکره ،ویل یی نوم دی څه دی ؟
ویل یی ، حضرت باز .
ویل یی چیرته اوسیری ؟ ویل یی کچه ګری کی .
پولیسو خیال کی راغی ،ګنی وکنځلم .
یار دا څه لګیا یی ښنګه کچه سری یی .
باز ویل : هو که زه کچه نه وای په کچه ګری کی به نه
اوسیدم .هاهاها..............
راوی : پاینده محمد د بهسودو اوسیدونکی

Ketabton.com

شپږمه ټوکه

وایی چی یوه ورځ حضرت باز د راشنی موادو د اخیستلو لپاره
د مهاجرینو کمیشنری ته ورغلی و.
مسول کس ترینه پوښتنه کری وه چی پاس لری ؟
حضرت باز ویل ، نه پاس نه لرم خو لاندی لرم
هاهاها............
راوی : حضرت بلال د ښیوی اوسیدونکی

اوومه ټوکه

منور جان استاده !
قندهار ته د خپلی ډلی سره تللی وم ، هلته د یو خان
میلمانه شوو ،خان نو یو لوی خورونکی سپی لره چی د

ورځی له خوا به ترلی و او دشپی به یی خوشی کولو چی کور وساتی
ډوډی او چای مو ډیر خورلی وو ، ویده شولو . شپه کابو نیمایی وه چی تشو ... تنګ کرم . پاڅیدم ما ویل د باندی به ووځم . خو سپی نه پریښودم ، ډیر ډاریدم . بیرته خپل کټ ته راغلم ، د ځان سره می چرت واهه ، په همدی کی خوب وری وم ،چی را ویښ شوم د کټ لاندی می تشی څڅیدی ،ځان او تالی می لامده وو ،چی ګورم په حجره کی څنګ ته می یو ماشوم هم ویده دی ، ما ویل حضرت بازه ! پرده دی په همدی کی دی چی ماشوم سره کټ بدل کری ،همداسی می وکرل ،ماشوم په خواړه خوب ویده خپل کټ ته راور ، زه په تیاره کی د هغه په کټ کی ویده شوم ،سبا چی ګورم ، د ماشوم په ډکو ککر یم . نو استاده ! لا ښه وشرمیدم .

اتمه ټوکه

منور جان استاده ! بلاګی دی واخلم . یوه ورځ نه یوه ورځ دی کابل ته لارم ، ما ویل ، یوه شپه یا دوه به می وی ، څه خبر وم چی زما به پکی میاشتی تیریږی ، خو شپی ډیری ووتی ، دا دواره ماشومان می کاله کی را په یاد شول. ما ویل بازه نور څه.
استازه ! په دی جاده کی سم یم ، سودا کوم ،ګورم چی یو حاجی په والګاه کی سور دی ،غر شو چی وتر یی ودراوه . ویل یی وه بازه و بازه ! ما ویل څه وایی ؟ ویل یی ودریږه ، کار می دی در سره .
استازه ! حاجی دی خو ډیر تیز حاجی دی . ویل یی زما د زوی واده دی .
ما ویل ، والله صیب ما خو سودا کری کاله له که نه.
ویل یی والله که لار شی . ویل یی شپه به کوی بیا به ځی.
خو ورک یی که کالی می د هغه حاجی کره کیښودل، دشپی می ور له ساعت تیری وکره ، سبا د ورځی می هم وکره ،ما ویل حاجی صیب ماښام دی ما رخصت که.

Ketabton.com

ویل یی ځی ؟
ما ویل هو . ویل یی شپه وکه ، ما ویل نه یی کوم صیب.
خیر روپی یی راکری ، ما سختن دی موتر ته ولار یم ،ما ویل اوس به راځی اوس به راځی. خو هر موټر چی راځی زه ور له لاس جګوم ، هغه رانه تیریږی . اخر شپه پخه شوه .ما ویل بازه ددی ځای نه هم ووتی د هغه ځای نه هم .
په دی ساعت کی یوه چکله لاری راغله ډیره تیزه روانه وه ،چی ما لاس جګ که هغی غلی کره .چکله تشه وه ،ما چالاکی وکره سور شوم ،مګر په چکله کی ګرد وو . ما ویل بازه راشه په دی جنګله کی کینه چی دا ددنیا باد در باندی ولګی . جنګلی ته چی ور جګ شوم ،ګورم چی یو اوږود شی پکی پروت دی . ما پری د ټول بکس ګومان وکه ،څه خبر وم چی مری دی . نیغ پی کیناستم . زه خو ورکوټی شی نه یم لکه شاول چی کینی .لاری روانه ده خپل مزل وهی . اسازه ! دا تابوت ماتیږی او ددی مری په خیټه ننوزی او دا میخونه زما په ... لګیږی .زه خیر وایم چیشی می چیچی ، ددی تنګی نه چی موتر ووت ،موتر ودریده ،کلینر کوز شو ، ډولچه یی په لاس کی ده ، اوس اوبه اچوی .زه یی هیر یم ،چی په موتر کی خو مو سورلی نه ده کینولی ، کلینر چی کتل زه یی ولیدم . د کلینر خیال کی راغی چی مری ژوندی شوی ، غږ یی کر چی و استا زه راووځه ، استاز یی چی راووت ، وار خطا شو ،یو واری غږ کر ، اشهد ان لااله الاالله. ما هم پسی ور غږ کر ، اشهد ان لااله الا الله .اوبه یی وا نه چولی ،بیرته موټر خطا کر ، داسی موتر ولی چی پایه یی په ځمکه نه لګیږی . زه وایم یا خدایه خیر کری ، یا سر کونډو با چی اوس موټر چپه نه شی .
دی سپینی تاڼی ته ورسیدو ، بیا یی موټر ودرولو ،در کسه وو ، در ی وارو ځانونه و غورځول ،مخ په تانی شول . زه هم تږی یم ما ویل څه ته هم اوبه وڅخه .زه چی کوز شوم ،هغی تمبی تر وکه ، دری وارو منډی کری . ما هم ورپسی منډه واخیسته . هغوی مخکی دی زه ورپسی یم چی واری په تاڼه ننوتل . ویل یی هله د خدای په جات . ویل یی ولی؟ ویل یی مری ژوندی شوی چی مر یی کرم . امر یی ضابط ته وکه ، کوم یوولس عسکر راووتل ، د واره یی لټونه ووهل ویل یی دریش !چی دریش یی که دا وینسته می زیره

شول ،خولی را باندی ماتی شوی ،ما ویل بازه ! ی ځایه مر شوی . اوس نو ضابط همدا وایی چی بګیریش ،بګیریش ، بګیرش.پولس عسکران راغلل ، غیره یی را نه چاپیره کره ، اوس نو په مخ راته لاس وهی ،غږ یی وکر تاسی ته ویل وه خلکو ! ستاسو مری ږیره لری؟ ویل یی هو . ویل ، دا خو بی ږیری دی . چراغ یی راور ګورم چی ډریور ددی ډکی دی. زه یی وپیژندم ویل یی خدای دی بیښ وباسه . ما ویل خدای دی ستا بیخ وباسی . ویل یی رنګ له می وګوره ،ما ویل ، زما رنګه له وګوره بوجی دی رانه جوره کره.

## نهمه ټوکه

بلاګی دی واخلم منورجان استازه!
یوه ورځ وزیر صیب (۱) ویلی ، باز محمد استازه !
ما ویل صیب ! ویل یی څه چی څو کامدیش او ګوردیش ته . نو ما ویل دا کامدیش او ګور دیش به کوم ملک وی نو ،څه خبر وم چی د خدای قهر دی . پاس یو ټوټه اسمان ښکاری نور ټول غر دی .بلاګی دی واخلم چی ورسیدو ،خیمی مو ووهلی .هلته دغره غاره کی دولس زره کسان کار کوی مخ په بدخشان سرک وهل کیږی.عالمونه لګیا دی کار کوی. مونږ نو د ورځی ګرځو په دی ځنګلونو کی میوی خورو او دشپی راځو وزیر صیب ته ساز کوو.ما ویل یوه شپه یا دوه به وی ،څه خبر وم چی میاشتی می پکی تیریږی.اخر سپګی می وکری .یو سری ویل سپګه راکه . ما ویل ، څه یی کوی ؟ ویل میری سره یی جنګوم .ما ویل ، والله که یی درکرم .نو د سیند په غاره ناست یم ،ډیر خپه یم .اوس همدا وایم چی خدایه وزیر صیب مهربانه کری چی بیرته لار شو. همدا سوال کوم چی وزیر صیب راغی .وزیر صیب مخکی دی ، قبایلو ریس دی ،ملا شامکار هم ورسره دی. نو بلاګی دی واخلم منور جان استازه ! دی ملا شامکار شیطانی وکره ویل ، وزیر صیب باز خپه شوی دی .ویل یی چیرته دی؟ ویل یی ، د سیند په غاره ناست دی .

(۱) وزیر صیب نه هدف د شاهی کورنی غری غلام فاروق خان دی چی ۱۳۲۰ نه ۱۳۳۰ ه ش کلونو پوری د ختیځو ولایتونو تنظیمه ریس و .

ویل یی څه چی وی ګورو .ویل یی وزیر صیب دی خو اوس مونږ پسی هم خبری کوی ، که زما منی ، په دی غره کی یو نقلی دی ، هغه به ورپسی راولو ،چی ښه یی خپه کړی او مونږ به چکچکی ورپسی ووهو.
زه نو هماغلته ناست یم ،دری سپاهیان ور لیری غره ته او زه خبر نه یم،نه اندېوالان راته څه وایی،نه می بل څوک خبروی.
د مازیګر مونځ می هملته وکه ،ما ویل لار شم وزیر صیب ته ساز وکم ،ډوډی به هم وخورم. سلام می واچوه او کیناستم . سلام سره دا نقلی می مخی ته ودریده ویل ، ورور‌ه بیګاه له زما میلمه یی . ما ویل څه وروره دا د وزیر صیب کارخانه ده . هر څه پکی ډیر دی.ویل یی نه ، زما میلمه یی. ما ویل څه وروره غریبی دی کوه.څه نو څه خبر یم چی ماته یی چل جور کری.اوس نو وزیر صیب هم وایی چی لار شه،قبیل همو‌ایی چی لار شه،ملا شام کار م وایی لار شه.
ما ویل څه نو د غریبی سوکرک دی،وی خوره.ورکره لارم یو دی دی ،یوه یی ښځه ده او یو زه یم . کیناستم ،نو ما سترګی ټیټی اچولی ،دی ښځی اور بل کر ،تبی یی کیښوده ،ډوډی پخوی . یوه ډوډوی یی پخه کره ،بله یی پخه دریمه یی وسوزیده . سری خپلی ښځی ته په قار شو ویل یی ای ښځی دا ډوډی دی ولی وسوځیده ؟ ویل یی پکر می نه وو ،وسوځیده . ویل یی زه درته ویم ولی وسوځیده ؟ ویل یی پکر می نه وو . ویل یی زما دی مزاج وران که چی اوس تا ...که دا میلمه ...
ما ویل دا دیوس څه وایی ، نو ما چالاکی وکره ،ما ویل کا کا راځه چی دواړه همدا ملامته ... ډوډی خو ما نه ده سوځولی.
وروره ! زه او دی لا په همدی خبرو کی یو ، ښځه خپه شوه ،له خپګانه د پوندو په سر کیناسته ،چی ګورم خښتګ یی شکیدلی او دا لوړ سپیکر یی ښکاریدو . زما هم ورته سپینی وتلی وی ، خوله می ورت اوبه پریښوده ،لکه د سور نیچی په مخکی چی څوک نارنج وخوری . د میره پکر یی نه ،پکر کیی چی ګنی د باز به ورته پام نه وی .په یو لاس یی لرګی واخست ،په بل لاس یی زه ونیوم ،مته یی ویل پورته شه ،ما خیر ویل وهی می .څه خبر یم چی مخ می بل طرف ته کول غواری .نو خپله ښځه یی په لرګی سره چوخ کره چی ... دی پټ که .



Ketabton.com

راته وایی : وروره ! دا کوټه می پټه کری ،خو لرګی یی ازاد دی ،ته اجازه وکه چی دا وران کم بیا یی ودان کم .
ما ویل وروره ! ورانه به یی کی ، ودانه به یی نه کی .
زه او دی لا په همدی کی وو چی هغه بیا ښځه په لرګی سره چوخ کره،ښځی ټوپ کره ،خطایی تری وشوه .
نو ما ورته ویل :
ما درته نه ویل چی ورانه به یی کی ، ودانه به یی نه کی .

## لسمه ټوکه

منور جان استازه !
یو ملا دی ، رقعه یی لاس کی ده ،یوه زره ښځه یی څنګ ته په مانځه ولاره ، ملا دی رقعی ته ګوری او خاندی .یوه ډله پیغلی جنکی راغلی ، ویل ملا صیب ! ولی دی رقعی ته ګوری او خاندی .ویل یی دا د چندر بایی نه خط راغلی دی،ویل : څه یی پکی لیکلی دی .
ویل : خط کی لیکلی دی چی پیغلی پریږدی ، زری ...
پیغلو ویل : دپلار خوله یی د خط سره داس او هسی کم.
زری لمونځ پریښود ویل یی ... کی ګوتی مه اچوی ،څه چی په خط کی وی ،هماغه صحی دی .

## یوولسمه ټوکه

منور جان استاده !

یوه ورځ یو سری دی ، خر یی مخکی کری ، غره لار دی خسو پسی ،مازیګر موده شوه ،دریځی شوی او باران شروع وکره ،چی ماسختن شو واوری هم پیل شوی ، سری نه لاره غلطه شوه ، کور له راځی وایی : ای خدایه ! زه هم مر شوم او خر می هم مردار شو زه خو بله ایله او اسره نلرم بیا یی څه چل وکه ویل راشه خر له لکی ونیسه ،خر چی کوم پلو ته ، ته هم ورسره څه .

خر یی له لکی نه نیولی ، خر مخکی دی ، دی ورپسی دی
خر برابر راغی کاله ته، سری چی سترگی بیرته کری ،چی
گوری خپل کور یی دی .
خره نه یی ورک واراوه او د خره وربوز یی مچی که ویل یی
قربان دی شم ته خو د ټولو جولاگانو نه هوښیار یی ،تاته به د
جنت او دوزخ لاره هم ما لومه وی .
سبا چی شو ښځی ته یی ویلی دی چی پسه راوله .پسه
یی حلال که ، څه چی د جولاگانو مشران او کلانتران دی ټول
یی غوښتی دی ،ویل یی زه خو مر وم ، خدای جوندی کم ،
دی خره جوندی کم ، ما ته لار مالومه نه وه دی خره کور ته
راوستم ،مگر د جنت او دوزخ لار هم ورت مالومه ده .
نو ددی لپاره استادزه ! میلمستیا یی جوره کره ،جرگه یی وکره
مصلحت یی په دی سره راغی ،چی پس له دی نه چی هر
جولا مری ، خر دی ورسره جوندی ښخوی ، د خره لکی به په
لاس ورکوی ،چی د جنت او دوزخ لار ورت وښی.
اوس استازه ! چی هر جولا مری ، خر ورسره جوندی ښخوی.
نو بله ورځ دی جولا له ښځی وویلی ،سریه لار شه پیښور
ته ،هسی د خلکو شرومبه له ناسته یمه ، چاپیره رانه غرونه
او انبارونه دی او زه د پردو شرومبو له گورم ، لار شه پیښور
ته ماله میښه راوره .
دا خو جولا سری دی ، ویل یی د دله لوری یو شش بولی
نشته ، میښه په څه واخلم؟
ویل یی یو څو روپی می تاته باسره کری دی. سری روپی له
ملا نه وترلی تللی دپیښور عل قی له.

استازه ! د پیښور خو داسی ټگان دی چی روغ سری تیر
باسی دا خو لا جولا دی . د جلاپ پری سترگی لگیدلی دی ،
بوره میښه یی ورله ښودلی ده چی نیا یی هم نه ده تیره
شوی ،ویل کاکا ! چالاکه به یی رسی چی لار کی درته لنگه نه
شی .د جولا نه یی روپی اخیستی او جولا ته یی میښه ورکری
، په لار کی جولا ته دری نور ټگان ناست دی ،ټگانو ویلی چی
دا میښه به ورنه څه چل کی واخلو .
په لار کی ورته ناست دی ویل کاکا ستری مه شی .ویل یی
خدای دی وبخښه .لومری ټگ رامخکی شو ویل : دا وزه څه کی
؟ویل یی کینه د زنطلاق زو ! دا میښه دهه .

دویم ورته مخی ته راغلی ، ویل : دا سیرلی څه کی .په دریم
چی راغلی ورته یی ویلی : دا سیر لکی څه کی؟
جولا ځان سره ویلی ، کاله پوری سیمسار ه ترینه چوره نه شی
.وارخطا شوی .ټګانو ته یی ویلی ، نه یی اخلی .ویلی ولی نه
اخلم. ویل یی په څو دی اخیستی ؟ ویل په غټو شلو روپو .
ټګان لس افغانی ټول غرانونه نه یی څولی کی اچولی ورته یی
ویلی ،کا کا که درته یی وشمارم له مزله وزی ، شل پوره دی .
جولا روپی له ملا نه وترله میښه تری ټګانو ویوره .کاله له راغی
ښځی ویل سریه ستری مه شی . ویل خدا ببخشید.ویل یی
میښه دی څه کره ؟
ویل چا وزه که ، چا سیرلی که چا سیرلکی که ایسته ما هم
خرڅه کره . ویل یی روبی دی څه کری ؟
ویل یی ، در کمر ماندیم .
پارسیوانان خو ملا ته کمر وایی او پښتانه خو کمر بل څه ته
وایی .نو ښځی ورته ویلی ،ولی درګاه دی نه وه چی تا کمره
کی ښخوله ؟
هغه بیا وویل ده کمر ماندیم .
استازه ! چی روپی را وغور ځولی ، نو یوه افغانی غران تری
راوغورځیده اوبل کوم شش پولی هم پکی نه وو جولا ویل دا څه
چل وشو ؟ ښځی ته یی ویل څه لری که نه ؟ ویل ، دخدای
هیله ده .
استازه !یو کچه لعل وو ،یو کچی خر وو ،جولا لعل په لړو کی
ایښی دی او دا لړو یی په زوره خره کی دننه کری اوس نو دا
جولا په ټګانو ټګی کوی .ډیر قابله جولا دی .
په ټګانو یی دا خر وربرابر کر ، ټګانو ویل ، کاکا ! دا خر د خرڅون
دی؟ویل یی کینی دله ګانو دا د خرڅون شی دی ؟
پاو وربشی ورته ږدم ، ډب تری باسم ،لعل غورځوی .دری وارو
ټګانو یو بل سره وځکنډل ،ځانونو سره یی ویل که زمونږ شی یو
ډب سره به شپارس غورځوی .استازه جولا منډه کره ،یو پاو
وربشی یی ورته راوری ،وربشی یی چی خلاصی کری ،یوډب
یی ووهه ،بر شو لامده یی یوځل راوغورځول .ویل یی لټوی یی
چی لټوی یی ګوری چی لعل پکی پروت دی .ویل یی زه خو د
خره بیه در سره نه کوم او بالکل یی نه خرځوم .خو په زاریو او
ننواتو یی خر تری په در شپیته زره روپیو واخیسته .
جولا بیا چل وکه او دوه نولیان یی پیدا کرل ،یو یی ښځی ته
ورکه او بل یی شکری پوری وتاره،ورته یی وویل ،ښځی تګان خو

Ketabton.com

به راځی ته به د ډوډی ،نولی او چرګی سره راځی .ټګانو خر کور
ته وری خپلو کی سره ویلی ،څه به دا خر یو من او دوه منو له
خوشی کوو ،راځی ! دی شلمنه غوزانو له به یی خو شی کرو
،هر څومره یی چی وخورل، سبا له به ډب ورکوو هماغومره به
غورځوی .وروره ! خر یی په زوره د ګدام کوټه کی خوشی کری
چی خوری خوری همداسی مردار شوی دی .سبا یی یو ورور په
تمبو وسه کری خو وسه یی نده شوی ، نور ورونه یی راغلل
،ویل یی لالا لکه چی ډیر یی غورځولی او د وره مخه یی نیولی
ده ،ځکه ور نه خلاصیری .چی تمبی یی ماتی کری ګوری چی
خر مردار پروت دی .ویل یی د کافر زامنو ! د غران خر یی در
باندی په دری شپیته زره روپی خرڅ کری ،هله پیش قبضی
راواخلی ، جولا بی مرګه مه پریږدی . دری وارو پیش قبضی
راواخیستی ، ورغلل جولا پسی .سلام یی اچولی ، جولا س
چالاکی کری نولی ته یی لاس تیر کری ، ویل یی منده که کور
کی چرګه حلاله که او ژر یی راوره .نولی تللی دی سوری کی
ننوتی دی . جولا خو هلته بل نولی هم ساتلی ،چی ګوری ،
ښځی ډودی په سر کری چرګه یی حلاله کری او پخه کری او
نولی یی په خواری راکاږی . ټګانو ویلی وګوری د کافر
شی څه په منډه لار او په منده راغی .دغسی خدمتی شیان
ولی نه اخلو .ټګانو ویلی کاکا موږ دا ډوډی نه خورو . ویلی ولی؟
ویل یی دا شی دی راباندی خرڅ که . ویل یی دا د خرڅون شی
نه دی . ویل یی نه دا شی په مونږ خرڅ که ،مونږ ډوډی نه خورو
ویل یی دا د خرڅون شی نه دی .غوارم چی امریکا له یی
ولیږم،دامریکا احوال به راله راوری . خو په زاریو او ننواتو په دوه
دیرش زره افغانیو یی تری واخیسته .ټګانو نولی له ځان سره یور
،جولا بیا څه چل وکه چی د پسه لری یی پیدا کر د خپلی
ښځی په کولمو پوری یی وتاره ویل ښځی ! ما کری په ټګانو
ټګی ، په راتګ به راځی . زه به درته وایم دا کار وکه ،ته به راله
برګه شی ، زه به دا توره واخلم ، ته به د پسه لری رامخی ته
کری ،پام کوه چی خپل رامخی ته نه کی . زه به دا پدی لری
ووهم ،ته به پریوزی . زه به درته ووایم ، جګ شه په توکل
دخدای . ته به نه جګیری . چی می درته وویل ، جګ شه د
پیتارو پیشکارو په خاطر وته پاځیږه .
ښځی د پسه لری کولمو پوری ترلی دی . دا به پریږدو دټګانو
احوال به را واخلو . کله چی ټګانو نولی وری کورته ،د بهسودو
سرداران پری میلمانه شوی دی ،ژر یی نولی ته ویلی ، چالاکه

ورشه کاله له، پسه حلال که . نولی تللی دی په غار ننوتی .
اوس سرداران هم تمبو ته ګوری ، ټګان هم . سرداران د ولړی له
لاسه په عزاب شول . ویل یی منډه ډوډی راوره . ویل یی صیب !
خبر می لیږلی .
ویل یی څوک ؟
ویل یی نولی.
ویل یی منډه که ورک شه،نولی هم خبر راوری ؟ وروره ! چی
جولا تللی کورته ، ګوری د کور ښځی ناستی دی ، یوه یی
وهلی ، ویل یی تاسوته خبر نه راغلی ؟ ویل یی نه .
ویل یی ولی؟ مونږ خو نولی در لیږلی وو .
ویل یی ، والله که مونږه پیشو هم لیدلی وی ،ته د نولی غم
کوی .
استازه ! ټګانو خپلی ښځی په مرګ وهلی وی .
خو بیا ټګانو ویلی ، پیشقبضی راواخلی ، جولا بی مرګه نه
پریږدو .
دری واره ټګان راغلی ، په تمبو کی ولار دی ،سلام یی اچولی
،جولا چابک باخیدلی . هله ښځی دا کار وکه . هله ښځی دا
کار وکه.
ښځی ویل ، سریه ! ولی می وار پار خطا کوی ، هر څه به
خدای وکی .
جولا توره راواخیسته ، د پسه لری یی وواهه ،خاشنی پری باد
کری .ویل یی پاخیږه . ویل یی د باخیدو نه یم .ویل یی پاخیږه د
پیتارو پیشکارو په خاطر . ښځه نیغه کیناسته .ویل یی ، وه د
کافر زامنو! پیتارو پیشکارو واخلی چی مری ژوندی کوی .
تګانو وویل ، صاحبه دا شی را باندی خرڅ که .که نه نو مونږ
ډوډی نه خورو . جولا ویل ، دا د خرڅون شی نه دی ، شل واری
خپله ښځه وژنم ،شل واری جوریږی .خو په زاریو او ننواتو یی
تری دا پیتار و پیشکارو په یو لک او پنځوس زره روپیو واخیسته .
بلاګی دی ورکه شه منورجان استاده !
ټګانو پیتار و پیشکارو ځان سره یور ،جولا روپی خوندی کری ،ځان
له یی په ژوندونی قبر وکینده ، تیره چورکی یی له ځانه سره
کیښوده ،ښځی ته یی وویل که ټګان راغلل زما قبر ورته وښایه
،ویل یی ښه.
وروره ټګان چی تلی دی ،دی کشری ویلی لالا باندی میلمانه
راغلی ما ته یې راکړه خپله ښځه یې خبره کړې نه ده. ویلي

هله ښځې دا کار وکړه هله ښځې دا کار وکړه ښځی ویلی سړیه ولې مې وارخطا کوې؟
هغه توره راختستی، استازه میلمه ناست دی، په ښځې یې ګوزار کړی دی. د ګوزار سره ښځه دوه نیمه شوې، میلمه ویلي ښځه دې ووژله ویلي یې جوړیږي. ویل څنګه جوړیږي؟ ویلي اوس وګوره ویلي پاځیږه په حکم د خدای. پاځیږه د پیتارو پیشکارو په خاطر. پیتار و پیشکارو یې تش کړ ښځه یې مړه کړه. سړی وارخطا شو، چې ښځه خو مې مړه کړه سبا به مې ورونه خپلې ښځې نه وژني ما پورې به خاندي.
پټه یې خوندي کړه او وینه یې دده وچه کړه . سبا یې چې ورونه ر اغلل ویل یې لالا څه حال دی؟ ویلی کمال نه ډک دی. شل وارې مې ښځه ووژله او شل وارې مې ژوندۍ کړه. ویلی څه شوه ښځه؟ ویلي پلار کره لاړه، ویلي راکړه اوس زمونږ وار دی دا ځلی د منځني ورور وار دی، ده چې خپله ښځه ووژله ده هم پټه خوندي کړه. دې مشر چې خپله ښځه ووژله ړیره یې شکوله ویلي تاسو وژلې وې په مامو ناحقه ووژله.
ویلي پیشقبظې راواخلئ جولا بې مرګه مه پریږدي چې له ښځو یې خلاص کړو دې واړو پیشقبظې راخیستي دي ماښام راغلي دي جولا پسې، ښځې ته غږ کړی دی چې میره دې چیرته دی؟ ویلی تاسې هسې لاړئ او میره مې مړ شو ویلی کوم دی قبر یې؟ ویلی هغه دی. دې واړه راغلل د قبر په کیندلو لګیا شول چې لحد ته ورسیدل ټکني شول ویلي د کافر زامنو څه حساب دی کشرانو ویلي دې مشر ته چې له هیڅ شي هم نه ډاریږي. مشر یې له ناکامه تخته لرې کړه او سر یې ور دننه کړ جولا ټوپ کړه پوزې نه یې ونیوه پوزه یې ترې غوځه کړه.
ویلي اها اها ویلي لالا دومره ژر یې بوی کړی دی؟ دې بل چې سر دننه کړی دا یې هم رانیولی ویل مه مه مه دې نه هم پزه غوځه کړې دې دریم چې سر دننه کړی پوزه او شونډې یې دواړه غوڅ کړي درې واړه همدا چغي وهي چې مه مه مه ، هاهاهاهاها.

دولسمه ټوکه
منور جان استاذه! یو سړی چې خامخا نومیده. خدای ډیره دنیا ورکړې خو دی په کې لټ و، هر چا ورته ویل خامخا ښځه وکړه، ویلی نه یې کوم. ویلی ښځه وکړه ویلي نه یې کوم، یو مولوی صاحب ورته ویل خامخا ښځه ښه ده سنت د پیغمبر په ځای

کیږي. خامخا مجبور شو او ښځه یې وکړه یو میاشت یې چې د ښځې سره تېر کړ بله ورځ خامخا بیرون ووته ښځې پیتي باندې کړي او ځمځۍ په کې وهي لړي یې کنه. خامخا چې راغلی ویل ای ښځې څه دې باندې کړي؟ ویلي پیتي. ویلي ورک یې کړه، چې ویلي ورک یې کړه ښځې ناراستي ونه کړه او کټوه یې واخیسته خامخا یې په دې سر وویشته، کټوه یې په غاړه کې بنده شوه او په پیتي وسوزیده یو سړي نارې کړي خامخا حال دې څنګه دی؟ ویلی حال مې د ښځې د لاسه در په در دی او دا غاړه کې مې چې پروت دا سنت د پیغمبر دی .
ما به ویل چې ښځه نه کوم تاسو را پورې کلک وی، چې ښځه وکړه اوس مې حال وګوره.
استاذه د یو خان نه بچیان پیدا کیدل او له بلې خوا نه جایدادونه ګرو کیدل، بچیان یې ډیر شول خامخا د جایداد نه خلاص شو اوس نو منور جان استاذه کاله کې اوړه نه شته نیمه شپه ده چې یو بچي یې وژړل ویلي ادې و ډوډۍ! ښځې ویلې خدای مو له داسې پلاره خلاص کړه چې کار او ژوند نه کوي چې تاسې له یوه مړۍ ډوډۍ وګټي، دا خبره خامخا واوریده چې راغی ویلي یه ښځې دا خیرې مه کوه والله چې هندوستان نه هم ځان ورک کړم، ښځې ویلي خدای دې د ترکستان نه هم ورک کړه، خامخا څادر څنډ وهه روان شو، چرت ورغی چې یخني ده، راځه دروازې نه دباندې مه وځه د دروازې په خوله کې کیناست او سر یې په زنګو کیښود ښځې له ځان سره وویل لکه چې میره مې په لوی لاس ورک کړه چابکه راووته ګوري چې په زینه ناست دی، ویلی ای خامخا راځه دننه، خامخا ویلی پریږده چې په همدې مسافرۍ کې مړ شم. خو خوارۍ او زارۍ یې کړي او خامخا یې ننیست نو دا ښځه ورته وایي خامخا دومره خو وګټه چې بیګا له ماشومانو له پرې غله واخلو خامخا ویلي چې والله چې دا روپۍ مې ګټلي نه وي که نور درسره سر کیږدم خامخا مخ په پیښور روان شوی په پیشور کې د یو نواب سره نو کر شوی یو کال مزدوري یې کړې ده یو زر روپۍ یې ګټلي دي. استاذه نواب له یې ویلي دي، چې بس نوره مزدوري نه کومه زما روپۍ راکړه هغه ورته ورکړي دي. نادیده سړي ته خدای پیسي نه ورکوي استاذه اوس خامخا ساعت کې پنځه ځلې دا روپۍ شماري چې د یوې ښځې سترګې پرې ولګیدې ښځې ویلي والله دا سړی ښه ساده سړ دی ور نژدې شوه غږ یې پرې وکړ خامخا ویل څه وایی ښځې ویل دوه زره روپۍ به

درکړم صرف قاضي ته ورشه ورته ووایه دا ښځه زما وه ما طلاقه کړه ویل شل وارې خو به دې طلاقه کړم بلا ګی دې ورکه شه خامخا چې روان شوی ښځې پرې عریضه کړي سپاهیان راغلل او خامخا یې راستون کړ بلاګی دې واخلم وایې ورکړه ددې ښځې روپۍ ویلي صیب یو غران هم راسره ن شته چې تلاشي یې کړه درې زره روپۍ یې ترې وویستې استاذه بلاګی دې واخلم هغه درې زره روپۍ یې کچنۍ ته ورکړې خامخا بیا لغړ شو، یو بلې کچنۍ ورته وویل چې په دې ښځې عریضه وکړه ددې ښځې یو زوی دی په دې مکتب کې دی ته ووایه چې ښځه مې طلاقه کړه زما زوی دی راکړي ، چې له ځان سره یوسم چې عریضه یې وکړه سپاهیان هلک یې د مکتب نه راوویست کچنۍ چې خبره شوه وروره خان دی که سید که ملا دی عالم د خدای یې لیرلی دي، خیر په پنځه زره روپۍ یې روغه کړي سړي بیا روپۍ په جیب کې اچولي دي او خوشاله دی کچنۍ ورته ویلي دي چې برخه مې راکړه ویلي والله که شش پولي درکړم، دې کچنۍ هم پرې عریضه وکړه خامخا واخطا شو، یو سپین ږیري ورته وویل ای خامخا ته داسې وکړه چې داسې چاته سره نخښتي یې والله باالله که دې پلار ترینه خلاص شي که چا درنه تپوس کولو نو ته ورته چې ډرررررررررر. په دې که خلاص شي. استاذه بلاګی دې واخلم سپاهیان راغلل په خامخا یې غږ وکړ چې راوګرځه مخکې شه خامخا ویل ډرررر. هغه په څپېړه وواهه سم دستي یې محرر ته وارساوه محرر ویل چې ددې ښځې روپۍ ورکړه هغه ته هم وایي، چې ډررررر اخیر وروره بلا ګی دې واخلم یو سړي ویل چې دا خو لیونی دی هر سړي ته وایي ډرررررررر.

سړی یې رخصت کړی دی بلاګی دې واخلم منور جان استاذه ماشومان یې مخې ته راغلل ویل ماما سترړی مه شي وروره ماشومانو ته هم وایي ډرررر خو یې مخې ته ورغله ویلي وروره سترړی مه شي خور ته هم وایي چې ډرررررررررر هر چا ته په ځواب کې وایي ډرررررررر، اخر د خامخا ښځې ته خلک راټول شو چې مېړه ته دې لګ نصیحت وکړه موږ سترړي مشي ورته کوو او دې وایی چې ډرررررررر خامخا ته ښځې ویلی ډرررررررررر مه وایه شرم دي وصیت درته کوم هغه ویل:

هغه روپۍ چې تاغوښتلې ما خو په ډرررر کې وې ګټلې
د بڼ بلبلې سرې دې منګولې.

ketabton.com

دریالسمه ټوکه
منور جان استاذه تا سره په نیکي چارې مل شه په دې دهقانۍ کې خو دا غاښور ډېر سخت کار دی یو دهقان چې غاښور کوي خانان دی نوابان دي په اسونو باندې سواره دي نوکران هم ورسره دي چې په دې دهقانان راغلل په دې وخت کې دهقان د خوشالۍ نه یوه لنډۍ وویلي کله چې یاقربان یې کړ نواب د اس جلو ونیو او پښه نیولی شو او خپلو نوکرانو ته یې وویل دا سړی وګورۍ چې په دومره دوړو او خواریو کې هم خوشالي کوي نوکر یې وویل همنشین یې ښه دی خان ویل څنګه ؟ ویلی د ښځې سره تبعیت ساز دی هر سړی ته چې خدای د تبعې ښځه ورکړي چې میړ یې ورسره خوشاله وي او ناکاره ښځه دې خدای چا ته نه ورکوي چې دا هر شپه ورته ګوریږي په مورچل کې سره ناست وې او ډزې کوي، دا خو بده ده کنه.
د ناکارې ښځې سره چې یو او دوه راغلل دستې دې سرته خیژي او وطن درباندې خبروي لکه سپي چې غاپي نو نواب خپلو نوکرانو ته مخ واړواوه او ورته یې ویل چې زما درې ښځې دي، درې واړه یې ددې دهقان د یوې ښځې سره بدلوم ویل صیب موږ به ورته ووایو یوه یې دهقان ته یاده کړه چې ښځه دې ورکړ زموږ بادار او په بدل کې درې واړه ښځې واخله دهقان ویل والله چې شل پرې راکړې که یې درکړم ویل هر سړي ته خپله بستره هر سړي ته خپله میخزین نو خان خو زورور و او هغه کمزوری و اخر هم دهقان مجبور شو ویل یې دومره مې پریږدئ چې کو ته لاړ شم او خپلې ښځې سره مشوره وکړم چوکه په لاس راغی کاله ته ښځې ته وویل نواب ماته ستا په سر درې ښځې راکوي خو تا رانه غواړي ښځې ویل دا کار په رضا دی که په زور دهقان ویل په زور ښځې بیا ورته سړیه ددې په ښځو کې به څه نقصان وي ته خو یې په راوستلو راوله دهقان ویل هغه درې واړو ته به د خدای کتاب ږدې که چیرې بد فعله وي پروا نه کوي که غلې هم خیر دی مطلب همدا رنګه ښځه به ساتې صرف زبان بازه ښځه به نه ساتې کوټه کې به جنګ وې او دا د کافر لور به د بام سره ته ختلې وې دهقان ویل پوه شم د هقان د ښځې دا نصیحت وارېده سبا چې شو درې واړو بورقې اچولي ولایتي بوټان یې په پښو دي اغا خفه بي بي خوشال یې اغوستي سرخي سفیده دارو مارو یې وهلي بلاګۍ دې واخلم ښځې چې د دهقان په کور ننوتي سم دستي دهقان دروې واړو ته د خدای کلام ایښی چې ستاسې دې په خدای قسم وي چې ستاسې څه کمال

دی ؟ هغې یوې ویلي راځئ چې ورته صحی حال ووایو داسې
نه چې دا ځل مو په خرو بدلې نه کړي یوې ویلې ما کوله بد
فعلي. بلې ویلي ما کوله غلا. بلې ویلي ما کې هیڅ ګناه نشته
یوازې میږه سره مې ژبه کوله ژبورې ته یې ویلي چې خورې ته
خو دا بستره واخله او څه ژبه یې د کوره ویسته او یو جولا وکړه
استاذه چې ټول اولس ددې د ژبې نه در په در دی وروره ولس
ورته راټول شو ویلې تا ته خو یې ویلي نه شو چې ددې ملک نه
لاړ شه خدای او رسول به ناراضه شي خو موږ به کډې اخلو او
ځو به .
دې خبرې نه وروسته کډه یې وکړه چپرهار ته د چپرهار عالم یې
هم دوه سپږمو ته راوست هغه خلک هم راټول شول او جولا ته
یې شکایت وکاوه جولا د ځانه سره ویل دې ښځې خو وطن په
ما تنور کړه په داسې ځای کې اچوم چې درک یې هم معلوم نه
شي نو منور جان استاذه په ډاک کې یو کوهي دی ښځې ته
ویل سر ټیټ کړه چې اوبه په کې شته او کنه ښځې چې سر
ټیټ کړه جولا پرې رامنډه کړه ښځه یې ووهله غرر شو چې
کوهي ته یې وغورزوله جولا لاړه هندوستان ته یو کال یې تېر کړ
فکر یې وکړ چې اوس به ګوندي هغه خبره ګونګه شوي وي جولا
بیا راغی د کوهي غاړې ته پټکې یې راښکته کړی چې دا ښځه
ژوندۍ ده که مړه؟
ښکته ګوري چې د پټکۍ پورې یو دروند شی ښښتي دی جولا
چې زور وکړ ګوري چې دیو جګ شو جولا بیرته دې کوهي ته دیو
وغورځاوه، دیو سلامونه ورته وکړل چې په لحاظ د خدای د خدای
په جات جولا ویل ولې؟ دیو ورته ویل چې په کلام د خدای چې
په دې کوهي کې یوه ښځه ده زړه مې ورسره وچادیده ومې
باسه د نیکۍ په بدل کې به درته د پاچا لور درکړم جولا په ډېرو
زورونو دیو له کوهی نه جګ کړ، دیو جولا ته ویل زه د پلانکي پاچا
په لور کینم په ډیرو ډاکټرانو او وزیرانو به پاخیږم ته چې راغلی
شونډې وخوزوه زه به پاخیږم دیو د پاچا په لور کیناست طبیبان
راټول شول ټول پرې ستړي شول اخر جولا پولیسانو د مټ نه
ونیو ویل څه کمال خو لرې ده وویل زه ډاکټر یم دستې یې د مټ
نه ونیو او شهزادګۍ ته یې مخامخ کړ دیو چې جولا ته وکتل
ویلې یاره راغلی ویلې هو جولا شونډې وښوځولې دیو ترې
پاخید د تلو په وخت کې ورته ویل چې نیکي دې را سره کړې وه
او نیکي مې درسره وکړه خو پام چې بیا مخې ته رانه شي.
والله که دې بیا نبیر هم رانه خلاص شي. دیو دې نه پاخید د بل

Ketabton.com

پاچا په لور کیناست شهزادګۍ جولا په نیکاح کړه اوس وروره پلونه دي، قورمې دي سالنونه دي غوښې حلواګانې چرګان دي اچارونه دي استاذه قسماقسم خوراکونه دي د جولا په ښه ساعت تېر دی، نو دیو خو د بل پاچا په لور کیناست پاچا د بل پاچا یعنې د جولا خسر ته یې احوال ولیږه او ورته ویل چې ستا لور په څه ښه شوه. ویل یې زما لور زما زوم ښه کړه ویل یې د خدای په لحاظ خپل زوم مور ته هم راولیږه چې یو څه چاره ددې هم وکړي زه به خپله نیمه پاچاهي ورته ورکړم. جولا چې ددې خبرې خبر شو استاذه فکر یې وکړ چې که دا ځل دیو ته لاړم نو خامخا به څه ټوکه دربانديې کوي جولا د شپې له کوره ووت روان دی، چې سبا شوی د هماغه پاچا ملک ته رسیدلی سپاهیان راغلل او جولا یې کلک ونیو او پاچا ته یو بوته جولا یې شهزاد ګۍ ته وروړ  دیو چې جولا ولید سترګې ورپسې برګې کړې جولا ته یې وویل چې ما خو تا ته ویلی  و چې ما سره به بیا نه مخامخ کیږي بیا څنګه  راغلی یې جولا چالاکي وکړه چې وروره زه ددې لپاره راغلی نه یم راغلی چې پاخوم خدای دې وکړي چې هیڅ پا نه څي دیو  ورت ویل چې بیا نو څه شي ته راغلی یې ویلی ته خبر نه یې ویلی نه . ویلي هغه ژبه وره ښځه بیا له کوهي نه راوتلې ده ما او تا ته یې سلامونه هم راستولي دي. دا یې هم ویلي چې ډېر ژر به راځم. دیو وارخطا شو جولا ته یې وویل د خدای په جات زه تختم کوهي قاف ته دې هم پاخیږم خو چې ما ته ورته ونه ښایې دیو د زبانې ښځې له ډاره لاړ او په جولا خدای مهربانه شو د یو پاچا لور خدای ورکړه او دبل پاچا پاچاهي نو خدای دې زبان بازه ښځه د چانه په نصیب کوي. والله که سړی بیا کوهي قاف کې هم ترې خلاص شي

خوارلسمه ټوکه

منور جان استاذه یوه ورځ والي صیب امر وکړ چې لاړ شئ چغه سرای ته ما ویل ښه صیب نو موټروان راته ویل چې ژر سیټ کې کینه زه چې سیټ کې کیناستم نو زما خبرو ته هر یو را نژدې کیږي زما ځای تنګیږي. ډریور ته د مجبوریت نه نژدې کیږم اخر دا موټر ګیر مې د پښو منځ ته راغی زه اخوا دیخوا شوم چې ځان ترې بچ کړم نو د ا د تنګي پیچومي ته چې موټر جیګیږي موټروان ګیرته لاس اچوي، لاس را تېر کړ صیبه هغه ګیر یې خطا کړ زما ګیر یې ونیو ما ویل مړ دې کړم نو دا وخت موټر بېرته په شا

راځي ما چيغي کړې چې زه خو دې مړ کړم موټو خو ټينګ کړه
هغه هم خاندي زه هم خاندم چړايي سر ته ورسيدو رنګ يې
زيړ اوختوي و ورته مې ويل ملامته نه يې د دواړو سرونه يو ډول
دي.

Ketabton.com

اخځلیک

کسټونه :

١  د حضرت د محلي سندرو کسټونه

٢  د نواب (مشهور ولسي سندر غاړی ) کسټ

مرکې

١  حاجي ناظر (د ننګرهار د سراچې اوسیدونکی) سره

٢  مولانا محمد دین (د پیښور ناصرباغ کمپ کې مهاجر) سره

٣  غلام رحمن او فضل رحمن(د حضرت باز زامن) سره، پیښور، وښو پل.

جاله وان نور محمد(د حضرت باز زوم) سره، د ښیوې ولسوالۍ د پلوارۍ کلی.

راویان

١  پاینده مخمد(مشهور په علاقه دار د بهسودو اوسیدونکی) د اوومې ټوکې

٢  احمد شاه (د بهسودو اوسیدونکی) د پنځمې ټوکې

٣  شاځوان (ولسي سندرغاړي منور زوی) د ننګرهار دښیوې اوسیدونکي شپږمې ټوکې.

کتابونه

١  پټوال محمد مومن، ټوکې ټکالې کابل پښتو ټولنه د اریانا مطبعه ١٣٦١ هـ ش

٢  هاشمي محي الدین، د لیکوالۍ فن دانش کتابخانه قصه خواني پشاور ١٣٧٢ هـ ش

Ketabton.com